مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

روښان خادم ۲۰۱۸/۱۲/۱۴

# افغان ملی ګرايې؟

د افغانستان ډیر خلک په دی عقیده دی چې د وطن د اوسنیو بدو حالاتو د ټولو عواملو په مجموع کي د ملی روحیی تضعیف او تخریب، د ملت پروری او وطن پرستی سره بی محبتی او بی پروایی دوه عمده علتونه دی چې زموږ دا ټولی ناخوالی او د سیاسی تفکر تشتت یی منځ ته راوړی دی. په دنیا کې هغه ملتونه چې ژوندې ملی روحیه لری د ژوند په ټولو اړخونو کې په شدت سره مخ په وړاندی روان دی لکه آلمان، جاپان، ترکیه، فرانسه، انګلستان، هند او نور هیوادونه، وګوری جرمنی او جاپان ته چې په دوو عمومي جګړو کې څومره تخریب او تباه شول خو ملی روحیه پکې ژوندی وه بیرته جوړ شول او د دنیا د قدرتونو په ډله کې حسابیږی. د ملی روحیی حیات او بقا په خدای، ځان او ملت اتکا او د ملی ارزښتونو تقدم دی. موږ عقیده لرو چې د نجات او مشکلاتو د حل لاره یوازی د یوه قوی ملی مترقی ګوند په جوړیدو سره لاس ته راتلای شی او د افغانستتان د حالاتو او نوی سیاسی کلچر د مطالعی له اثره دی نتیجی ته رسیدلی یو چې حالات داسی بدل شوی او داسی ښکاری چې ډیری خبری، نظریات او تحلیلونه باید له سره ولیکل شی او د تحریفاتو او فکری تشتت او ګډوډیو مخه ډب شی .تر څو ملی روحیه ژوندی او قوی شی، ملت پالنه او وطن پرستی په رګونو کې د وینې برخه شی. د دی هدف د پاره لازمی ده چې د افغان ملی ګرایی په باب اصیل تعریف پیدا شی او ملی ګټی په نښه شی .

نو ضرورې ده چې باید د لومړنیو بنیادی خبرو سره تماس ونیول شی مخکی له دی چې د افغان ملی ګرایی په باب وغږیږیو لازمی ده چې د دغه مبحث ستر او لومړنی هستوی مر کز چې هغه «ملت» دی وپیژنو نو د نورو خبرو د پاره به لاره هموار شی د ملت په باب خبری او تعریفات د ډیری پخوا زمانی څخه پیل شوی دی او په زړو متونو او لیکنو او شفاهی روایاتو کې د ملت د ذکر تر سترګو کیږی مثلاً د ملت کلمه تقریبا ۶۰۰ کاله د میلاد نه مخکی د «مورمون» په کتاب کې ذکر شوي او په اسلام کې الله پاک په قران کې سورة البقره ایت(۱۳۵)کې فرمایی :(وقالوا کونو هودا أو نصارا تهتدوا قل بل ملة إبراهيم حنيفا و ما کان من المشرکين) یعنی د ابراهیم (ع) پیروان چې د یوی واحد فکر پیروان دی ملت دی. د(ملت ابراهیم) ذکرپه قران شریف کې څو ځایه راغلی دی. بل ځای په سورة النسا ایت (۵۴)کې فرمایی: أم يحسدون الناس علی ما أتاهم الله من فضله فقد أتینا ال ابراهيم الکتاب والحکمة و أتينهم ملکا عظيما: دلته د ملک عظیم موضوع د ملت د جوړیدو د یو ضرورت ثبوت څرګندوی.

د فرانسی د انقلاب په وخت کې د فرانسی د۱۴ لویي له خولی نه دا کلمه راوتی چې:( ای زما ملته ). بیا تر ننه د فلاسفو حکماوو او علماوو د بحثونو او تحلیلونو موضوع ده. بله مهمه او د اکثره علماوو تر منځه منل شوی نظریه د ارنست رینان فرانسوی مورخ او فیلسوف (۱۸۸۲-۱۸۹۲) نظریه ده او د دغه کلمی د پاره یې تعریف وړاندی کړی دی او پوښتنه کوی چې ملت څه شی دی؟ هغه وایی: «ملت د خلکو هغه مجموعه ده چې په یوه محدوده جغرافیای ساحه کې د یو بیرغ لاندی د مشترک تاریخ ، مشترک کلچر ، ژبی ، استقلال او اقتصادی مشترکوګټو په درلودو سره ژوند کوی او ملت تشکیلوی.»

که دا پورتنی تعریف د یوه محک پحیث وپیژنو داسی ښکاری چې د جغرافیایی حدودو په محدوده کې مختلفو خلکو د مختلفو ممیزاتو په درلودو سره ملتونه تشکیل کړی دی نو موږ هم د افغانی ملی ممیزاتو په چوکاټ کی د افغانستان خلک د یو واحد ملت په حیث پیژنو.

د افغانستان په جغرافیایی محدوده کې مختلف اقوام یو د بل پوری داسی مربوط دی چې یو ملت یی د تاریخ په مختلفو دورو کې تشکیل کړی دی چې دی خلکو د ژوند ټولی لوړی او ژوری په ګډه د یوه قوی او واحد ملت په حیث تجربه کړی دی ګر چې په افغانستان کې مختلفی ژبی او مختلف قومونه موجود دی خو د ارنست رینان د تعریف په اساس یو ملت ګڼل کیدی شی او هغه مشترکات چې موږ ټول یو د بل سره د یو ملت په تشکیل کې نښلوی هغه زموږ تاریخ ، کلچر، جغرافیایی محدوده ، دین ، استقلال، او ملی ګټی دی . او ګومان نه کووم چې په دی برخه کې ډیرو تشریحاتو ته ضرورت وی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د افغانستان د خلکو قاطع اکثریت مسلمانان دی چې د نورو کوچنیو دینی اقلیتونو سره په ګډه د ورورۍ ژوند کوی، ژبې ډیری دی خو د ملت د تشکل د پاره د وطن ټول خلک په پښتو او دری ژبه تفاهم کوی ، رسومات هم د ټولو قومونو تر زیاته اندازه یوشان دی ، بیرق یی هم یو دی ، ملی ګټې یی او مفاخر يې هم سره مشترک دی بنا داسی ویلای شو چې د افغانستان په واحده جغرافیایی محدوده کې یو واحد متمرکز او قوی ملت موجود دی چې زوړ پنځه زره کلن تاریخ لری او د «افغان» په نامه پیژندل کیږی د دی د پاره چې مبحث اوږد نشی او خبری مو یوازی د ملت کیدو پوری منوطی نشی دغه خلکو دپاره چې وایی :«ما ملت نیستیم» همدا کافی ده .
زمونږ له نظره له پورتنی مبحث څخه وروسته د ملی هویت مسله هم د دقت او څیړلو ایجاب کوی .

## افغان ملی هویت:

لکه څرنګه چې د ملت په باب نظریات مختلف دی د ملی هویت په باب هم مختلفی نظریی موجودی دی .
وایی چې: ملی هویت د یو عده مشترکو ارزښتونو په باب یو ذهنی او عقیدتی احساس دی چې د روحیاتی مطالعاتو په اساس انسانان په عقیدتی او ذهنی لحاظ یو د بل پوری تړي
«پروفیسور روپرت ایمرسن»( ۱۸۹۹-۱۹۷۹) چې څلوېښت کاله یی د هاروارد په پوهنتون کې د پولیټکل ساینس او بین المللی روابطو تدریس کړی دی او د آسیا او افریقا د براعظمونو په برخه کې د ناسیونالیزم د متخصص په حیث پیژندل شوی شخصیت دی داسی عقیده لری چې «ملی هویت د خلکو هغه مشترک احساس دی چې د ملت احساس کوی» او یا«ملي هویت د یوه شخص او یا ډلې هغه عمیق او پیاوړی مثبت احساس دی چې په یوه ملت فخر کوی او عشق ورسره لری او د همدغه ملت د نورو ګروو په مقابل کې د مسولیت احساس کوی» . د املی هویت هغه وخت ښه درک کیدی شی چې په یوه ملت باندی تیری وشی یا داخلی دښمنان او طبعی حوادث یې تحدید کړی او ټول خلک یې په مقابل کې یو شاني مشترک عکس العمل وښایی کله چې دا احساس عمومي او جمعی شی نو هلته بیا ملی سمبولونه ، کلچر، لاس ته راوړني ، او ملی تجربی تاریخی ریښی پیدا کوی.»
انسانان خپل ملی هویت په مختلفو ډولونو او اندازه په خپلوفردی هویتونو کې منعکسه کوی. دا باید په یاد ولرو چې قومی هویت او ملی هویت یو د بل سره متفاوت دی خو مخالف نه دی نو په کار ده چې قومونه د خپلو قومي هویتونو په ساتلو سره ځانونه د یوه ملي هویت درلودونکی و ګڼی او دا نیک احساس په کې ژوندی او قوی وساتل شی چې د ملی یووالی د جوړیدو او ټینګیدو د پاره به کار ډیر ساده او اسانه شی .
زمونږد لیکنی د ثقل مرکز «افغان ملی ګرایی» ده او دهغه په تشکیل ،تعریف او ضرورت خبری زمونږ د ګوند «دافغانستان ملی مترقی ګوند» کړنلاره هم تشکیلوی
د افغانستان د تیرو ۳۵ کالو تاریخ او واقعات دا ښیی چې د منطقې ، نړی او ګاوندیانو د سیاسی اجنداوو له کبله په افغانستان کې د دغه زوړ تاریخی او قوی ملت (افغان) د تخریب او مسخه کیدو د پاره ډیری عمیقی توطیی د خاصو پلانونو په چوکاټ کې داسی عملی شول چې اوس ډیرو تعریفاتو بدلون موندلی او باید دا کذبی او نا اشنا مغرضانه تعریفات تصحیح او له سره ولیکل شی. نو د ریښان د تعریف پر بنسټ داسی ویلی شو چې: هرهغه څوک چې د دغه تعریف په چوکاټ کې خپل سیاسی او ټولنیز افکار منسجم او عملی کړی هغه ته ملی شخصیت ویلای شو که د خلکو یوه لویه ډله د دغه چوکات په منځ کی ځانونه منسجم کړی او د همداسی عقیدی پر بنا د ټولو خلکو راټولول یی هدف او غایه وی او خپل سیاسی نظام هم په همداسی یو چوکاټ کې جوړکړی نو هغه ته به ملی ډله، او که د یو ملک د سیاسی احزابو په شکل فعالیت ولری نو د یوه ملی سیاسی حزب په حیث پیژندل کیدی شی چې متاسفانه په افغانستان کې په تیرو ۴۵ کالو کې یو متحد، سیاسی ملي ګوند نه موجود شوی او نه يې هم په طبعی صورت رشد کړی دی. کوم حزبونه او ډلې چې موجودی وی ټول غیر ملی شمیرل کیږی او د ریښان د تعریف په اساس ملی صبغه، عمل ، فکر او اقدام یی نه درلود او نه لری څوک د نورو د پاره کمونست ، سوسالیست او څوک هم د نورور د ځغ لاندی د افراط ګرایی دینی او مذهبی توري له تیکو راوویستی
«افغان ملی ګرایی: د اسلام مقدس دین، د ملت د ګټو لومړیتوب، د ملی ګټو خوندیتوب، د چپ و راست افراط نه منل، د ملی یووالی غوښتل ، په یوه واحد ملت عقیده درلودل ،د ټولو هغه نظریاتو او اعمالو ردول چې د نظام بنیادونه تخریبوی، د دیموکراسی په تقویی او رشد عقیده درلودل، د ملی شعور او ملی هویت راژوندی کول، په خپل تاریخ او مفاخرو فخر کوول، د افغانی کلچرد وسعت او ساتنی د پاره کار کوول ،د ملت د ټولو قومونو احترام کوول، د افغانستان د ملی استقلال نه دفاع کوول، د هرډول فرهنګي، کلتوری او اقتصادی استعمار مخه نیول، د سولې او وروری ټینګول، د اساسی قانون او نورو نافذه قوانینو احترام کوولو څخه عبارت ده او افغان ملی ګرا شخصیت باید داصفات ولری او پری معتقد وی او په عمل کې یې ښکاره کړی»
ملی نظام، ملي تفکر، او ملي عمل کې لوی رکن استقلال او په ملت اتکا ده چې بدبختانه ټول تیرحزبونه په دغه عقیدت نه و جوړ شوی برعکس د ملی ګرایی نقابونه یی پر مخ راکش کړی و څوک د روس، څوک د عربو، پاکستان، ایران او نورو هیوادونو په درشل کې په سجدو پراته وو چې نن دا نقابونه پورته شوی او د هر یوی ډلې هیولای مخونه څرګند او د بیګانه پرستۍ اسناد یې برملا شوی دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ملت د ملی افرادو څخه ډک دی چې غیر منسجم او پراګنده انفرادی ژوند لری، په تیر دور کې ډیر کوښښونه شوی دی چې دا پراګندګی او انفرادی ژوند د یوه سیاسی تشکل په جوړیدو سره منسجم ، متحد، او واحد کړی. دا جد و جهد تر اوسه روان دی چې د همدغه هدف د پاره متی رانغاړلی دی چې د ملت د اکثریت دا غوښتنه د معراج لوړپوړیو ته ورسوی او دا ملت یو د بل پوری د ملي ګرایی په فولادی ځنځیر داسی وتړی چې خپل تاریخی برم او حیثیت بیا احیا کړی او د نړی د ټولو هیوادونو سره په متقابله ښه سلوک ژوند وکړی او ملی ارتقا اوقوام ته دروازی خلاصی کړی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ